# د لشې تکلونه (یوه تنقیدي څېړنه)

**The light Essays of Lashay ( A Critical Review )**

طفېل احمد زریاب یوسفزی*
ډاکټر نصرالله خان مجنون♥

**Abstract**

Dr. Muhammad Azam Azam is one of the most popular writers in Pashto literature. Especially Pashto Drama has given him popularity among the dramatist of Pakistan and Afghanistan. His poetry is also famous in Pashtons all over the world. Lashay is one of his books on dramas and Light Essay. This paper is going to describe the Essays of Dr. Azam. There is a critical review on the Light Essays included in Lashay with the explanation of Light Essay in the light of western thoughts and eastern scholars.

**Key words:** Literature, Drama, Popularity, Short Essay, Light Essay, Essay, Famous poet,

ډاکټر محمد اعظم اعظم د پښتو شعر او ادب یو پېژندلی نوم دی.که نظم دی که نثر په دواړو ئې ښه عبور حاصل ؤ. لشې هم د ډاکټر اعظم د ډرامه ګو او تکلونو داسې مجموعه ده چې د هغه د ځوان تاند فکر پلوشې پکښې د زړونو او ذهنونو تیارې تختوي. د ډاکټر اعظم د قلم توان ددې جوګه دی چې د هغه په تخلیقاتو تحقیقي کار وکړی شي. د لشې دوه برخې دي، ډرامه ګۍ اوتکلونه. په دې تحقیقي مقاله کښې موږ د ډاکټر اعظم د تکلونو د تنقیدي جاج سره د تکل په پېژند ګلو هم رڼا اچوو.

د صداقتونو په شان د ادبي اصنافو هم خپل مختلف جهتونه دي. هغه ټول عناصر کوم چې د یو ادبي صنف اساسي حېثیت لري د یو تعریف (**Definition**) په لار ئې مکمله ترجماني نه شي کېدی. بعضې تعریفونه په جزوي توګه د صداقتونو نه پرده پورته کوي. د یو صنف ادب انفرادي خصوصیات او خدوخال احاطه کوي او هم په دغه بنیاد د هغه صنف په مزاج پوهېدو کښې لاس کوي. په مغرب کښې د تکلونو پوره تعداد موجود دی او په عالمي ادب ئې هم پوره اثرات دي خو ولې بیا هم په انګرېزۍ کښې د تکل څه خاص او حتمي تعریف نشته. تکل په پښتو ادب کښې د اردو نه مخکښې خپل وجود لرلو. مشتاق مجروح لیکي:

"پښتو ته دا صنف د اردو نه اګاهو راغلی دی او د دې د پاره د تکل نوم په وړومبي ځل اولسي ادبي جرګې استعمال کړی دی."(1)

---

*Lecturer, Department of Pashto, Islamia College University, Peshawar.
♥Assistant Professor, Department of Pashto, Islamia College University, Peshawar.

په تکل په مختلفو ادبي حلقو کښې بحث او تمحيص روان دی په دې صنف د معياري کار د نشت والي په سبب د تخليقي کروندې زمکه نه ده جوړه نو ځکه چې د تکل کوم تعريفونه شوي دي نو په هغې کښې د تکل واضح تصور وجود نه لري. د تکل د جامع تعريف ضرورت لا اوس هم محسوسېږي. د دې هڅې په نتيجه کښې څو تعريفونه مختلفو نقادانو او اديبانو کړي دي. ابتدا به د مغربي اديبانو او ناقدانو د اقوالو نه وشي، ځکه چې دغه خاوره کښې تکل د ژوند تکل کړی دی. انسائيکلو پيډيا برټينيکا کښې د تکل په حواله ليکي.

"The English true Essay is a composition of moderate length, usually in prose which deals in an easy, cursory way with the chosen subject and with the relation of that subject to the writer".(2)

**ژباړه**: انګريزي مضمون معتدل اوږد والی لري او په عامه توګه په نثر کښې وي چې موضوع ئې سرسري وي او د مصنف سره د هغې موضوع نېغ په نېغه تعلق وي.

جارج سينټ بري Essay د يو دلچسپه سړي ګفتګو ګڼي چې په کښې د هر قسمه معلوماتو سره د ډوډۍ نه پس د خبرو اترو مزه ناک انداز لري.

"After dinner monologue of an interesting and well informed man".(3)

**ژباړه**: لکه د شپې د ډوډۍ نه پس د يو پوهه سړي خوږې خبرې اترې.

ډبليو ايم هډسن تکل يو داسې ليک ګڼي چې په کښې د مصنف ذهن او شخصيت ليدی شي:

*" انشائیہ کی بنیادی صفت یہ ہے کہ مصنّف کا ذہن اور کردار اس کی تحریر کے مواد سے ظاہر ہو۔"*(4)

او د ډبليو اي وليم د خيال تر مخه :

*" انشائیہ عام طور پر ایک چھوٹا سا ٹکڑا ہوتا ہے تاہم انشائیہ نگار نکتہ آفرینی کے لئے کسی چھوٹے سے واقعے کو بھی استعمال کر سکتا ہے اور اپنے زاویۂ خیال کی تمثیلی وضاحت کے لئے ناول سے ایک ورق لے کر اس سے کردار بھی تخلیق کر سکتا ہے۔ لیکن واضح رہے کہ انشائیہ نگار کا بڑا مقصد کہانی کی پیش کش نہیں بلکہ انشائیہ نگار معاشرے کا فیلسوف، ناقد اور حاشیہ نگار ہے۔"*(5)

د ډبليو اي وليم په خيال د تکل نګار بنيادي کار د قيصې يا واقعې بيان نه دی بلکې نکته آفريني ده او د هغې د پاره هغه هره وسيله په کارولی شي. فلسفيانه توجيه، په معاشرتي مظاهرو تنقيد، د حقائقو انکشاف او داسې نور مختلف اړخونه د هغه په تخليقي قوتونو کښې ښکاري، بلکې ددې نه هم يو قدم سېوا د هغه په مدد هغوي د اظهار وسعتونه لټوي. ايف ايچ پريچر وائي:

*"دوسری اصناف کے مقابلے میں ایسّے متوازن فکر کا عمدہ حاصل ہے۔ اس میں ہلکی سی بے اطمینانی اور ناموجود کو موجود سے دریافت کرنے کی آرزو ملتی ہے۔ ایسّے کی سعی پارہ پارہ اور مختصر ہے۔ لیکن یہ ہمیشہ خلوص سے معمور ہوتی ہے اور موضوع کو ذات کے حوالے سے پیش کرتی ہے۔"*(6)

ناموجود له وجود ورکول تخلیق دی. د یو صنف ادبي حېثیت د دې صفت نه بغېر مشکوک کېدی شي. د تکل هیڅ تخصیص نشته البته متوازن فکر او د ذات په حواله د موضوع پېش کول د تکل انفرادي خصوصیت گڼلی شي.هاؤستن پیټر سن لیکي:

"ایسّے کا مطلب تحریر کا ایک چھوٹا سا ٹکڑا ہو گا جس میں کسی بھی موضوع سے بحث کی گئی ہو مگر شخصی، غیر رسمی اور غیر مصنوعی انداز میں۔ ایسّے مفکّرانہ ہو گا لیکن سنجیدہ نہیں۔ وہ فلسفے سے قریب تر ہو گا لیکن فلسفے کی طرح باقاعدہ نہیں۔ اس میں ایک قسم کی ڈھیلی ڈھالی وحدت ہو گی۔ اس میں اصل موضوع سے مسرّت بخش انحراف بھی ہو گا۔ وہ ہمیں مصنّف کی رائے سے اتفاق کی ترغیب دے سکتا ہے لیکن وہ ہمیں اتّفاقِ رائے پر مجبور نہ کرے گا۔ 'ایسّے اِسٹ' چاہے اور جو کچھ بھی ہو، وہ ہمارا دوست اور لفظوں کا فنکار ہو گا۔"(7)

د دې تعریف تر مخه تکل د مسلماتو بیان نه دی بلکې د شخصي نقطه نظر اظهار دی. ځکه خو د سولېدلي انداز، مخلي لفظونه او د مخصوص فکري سانچو نه ډډه، د موضوع نه په انحراف د هغې نوي او ناشنا اړخونه رابرڅېره کول د تکل نگار لار ده. د تکل په اړه د جانسن دا تعریف ډېر زیات مشهور شوی دی.

"An Essay is a loose sally of the mind, an irregular indigested piece, not regular and orderly composition" (8)

**ژباړه**: ایسّې د خلاص ذهن غېر منظم مرتب کړی شوی مضمون وي.

تکل د ذهن خپل ازاد چرت، ترنگ او بې قاعده او غېر منظم عمل دی. جانسن د منصوبه بند فکر نه ډډه او د سوچ ازادي د تکل شناختي نخښه گڼي. خو دا ده چې د ذهن ازاد چرت او ترنگ خو د یو لېوني هم کېدی شي .د فکر او اهم خبره دا ده چې د لېونو سوچ کښې مرکزیت نه وي او د تکل نگار سوچ د یو مرکز سره تړون لري. تکل ته بې قاعده او غېر منظم عمل گڼل نه یواځې د تکل هیئت بلکې تکل او عملي مضمون مېنځ کښې فرق هم واضحه کوي.

تکل ته په اردو کښې انشائیه وئیلی شي او په انگرېزۍ کښې ورته Essay یا Light Essay وئیلی شي.

سید محمد حسنېن لیکي.

" انشاء کا مادہ نشا(نش ئ) جس کے لغوی معنی پیدا کرنا ہے۔۔۔انشاء کی توانائی دراصل خیال کی تازگی، تنومندی سے ظاہر ہوتی ہے۔ انشائی قوت سے بات میں معنویت پیدا ہوتی ہے اور خیالات کی لہریں نکلتی ہیں۔"(9)

ډاکټر وحید قریشي د انشائیې په اړه لیکي.

" انشاء کا لفظ عربی زبان سے اپنی اصطلاحی حیثیت کے ساتھ نازل ہوا ہے۔ انشا کا لفظ ابتدا میں ایک دفتری اصطلاح تھا۔ اس کا اطلاق سرکاری فرامین اور مکتوبات کے رف ڈرافٹ پر ہوتا تھا اور صاف شدہ مسودے کو تحریر کے نام سے پکارا جاتا تھا۔ اس نے دیوان اور انشاء کا نام پایا۔ رفتہ رفتہ فرامین اور مکتوبات کی تحریر و ترتیب کے لئے انشا کا لفظ مستعمل ہو گیا۔ یہی نثر احکام اور فرامین اور مکتوبات کی زبان قرار پائی۔ اس نثر میں خطابت کا عنصر جزو اعظم تھا۔ اس سے انشا پردازی کی وہ خاص نہج وجود میں آگئی جس کو ہم انشائیہ کے نام سے یاد کرتے ہیں".(10)

کشاف تنقیدی اصطلاحات کښې لیکي.

"انشائیہ ایک اصطلاح کی حیثیت سے Essay کا ترجمہ ہے۔ پہلے پہل اسے بھی مضمون ہی کہا جاتا تھا لیکن مضمون ایک ایسی عام اصطلاح ہے جس کی حدود میں سوانحی مضمون، تحقیقی مقالہ حتیٰ کہ اخبار کا مقالہ افتتاحیہ بھی شامل ہو جاتا ہے۔ مضمون کی اس قسم کے لئے کسی نئے لفظ کی ضرورت تھی۔ چنانچہ وزیر آغا نے انشائیہ کا لفظ تجویز کیا، جو اب اصطلاح کا درجہ اختیار کر چکا ہے۔"(11)

د سلیم اختر د وینا تر مخه:

"انشا کے جو بھی معنی ہوں، انشائیہ صرف اور صرف Essay کا مترادف ٹھہرتا ہے۔"(12)

ډاکټر سلام سندیلوي لیکي.

انشائیہ کا مفہوم اردو میں تقریباً وہی ہے جو انگریزی میں Essay کا ہے۔ انشائیہ مضمون نگاری کا وہ جزو ہے جس میں مصنف اپنے ذاتی اور انفرادی تجربات کو پیش کرتا ہے۔"(13)

د ډاکټر سید عبدالله د وینا مطابق.

"مضمون نگاری Essay writing کا ترجمہ ہے اور Essay کا ترجمہ مضمون کہا جاتا رہا ہے۔ آج کل Essay کو انشائیہ اور مضمون لطیف بھی کہہ دیتے ہیں۔"(14)

ددغه ټولو تعریفونو په تناظر کښې موږ دا وئیلی شو چې تکل چې په اردو کښې ورته انشائیه او انګرېزۍ کښې ورته لاټېټ ایسے یا ایسے وئیلي شي هغه لیک وي چې پکښې یو لیک د خپلې مشاهدې او تجربې سره سم د خپل فکر او نظر په زور یوه عامه موضوع داسې په هنر خاص کړي چې هم پکښې د فن خواږه وي او هم د ژوند تفسیر. لیکوال د تکل د لیک په وخت د خپل خاص چرت سره خپله موضوع له د نوي معنو سره د خوند او رنګ ستوري راوړي. که څه هم د تکل د موضوع نه علمیت نه ظاهرېږي خو ولې بیا هم دا دلیکوال د علمیت او زاویه نظر ښکاره انځور وړاندې کوي.تکل واحد صنف ادب دی چې پکښې د ادب د هر صنف نه په یو وخت او یوه موضوع کار اخستل د تکل وجود له نوی روح ورکوي.

په پښتو کښې انشائیې له تکل نوم په اولسي ادبي جرګه کښې ورکړې شوی دی او ماسټر عبدالکریم د معارفي کولو کوشش کړی دی. دغسې ډاکټر محمد اعظم اعظم په لشې کښې د ډرامګو نه علاوه تکلونه هم لیکلي دي. په لشي کښې اووه تکلونه دي، خو د ډاکټر اسرار د تکل په تکل یو مکمل کتاب دی. مشتاق مجروح لیکي:

"د ماسټر عبدالکریم په ځولۍ ګلونه کښې د افسانو نه علاوه ځنې تکلونه هم شته. دغسې د ډاکټر محمد اعظم اعظم په لشې کښې هم ځنې تکلونه شته دی. تر اوسه په پښتو کښې د تکلونو مکمل کتاب د ډاکټر اسرار د تکل په تکل کښې دی چې په ۱۹۹٤ ء کښې چاپ شوی دی."(15)

تکل څه مخصوص هیئت نه لري کله د مضمون او کله د ډرامې او کله کله د سفر نامې او رپورتاژ په رنګ کښې خپل وجود کښې د تخلیق روح پوکي. لیکوال په کښې په خپل یو ځانګړي چرت کښې د یوې موضوع په اړه خپله مشاهده او فکر وړاندې کوي.

دلته موږ د لشې د تکلونو تنقیدي جائزه اخستلی شي. لشې د ډاکټر اعظم د طنز و مزاح یو ځانګړی کتاب دی چې په کښې د کالج د وخت د ډېرو خاطرو سره سم په کښې زموږ د معاشرتي ژوند ژوندي تصویرونه دي او دغه تصویرونه چې په کومه طریقه د طنز و مزاح په خوږو لړلي ډېر په استکارۍ وړاندې کړي دي. د لشې تکل د فلسفیت او رنګینۍ مجموعه ده. داسې فلسفیت چې په کښې د زړه سوز، اذیت، تشدد او یا وحشت خېزه سنجیدګي نه وي. دې کښې فلسفه ده خو داسې چې په کښې په مخ بې نوکارو رنګیني وي. خو دغه په ذمه دارۍ سره د احتساب او حساب عجیبه غریبه مجموعه د خپل فکري او جذباتي امتزاج نه یو لوی شخصیت پېدا کړی دی. یو داسې صوفیت چې د مزاح په مالګه ترسکون کړی شوې دی. د لشې وړومبی تکل او زه صدر شوم دی چې په کښې د یو کالجي هلک د کالج د وخت هغه تراخهٔ حقائق کوم چې نن هم خپل وجود لري او زده کوونکي په ډېره بې دردۍ د خپل منزل او مقصد نه اړوي بیان کړی شوي دي خو رنګ ئې ورله د خوب ورکړی دی. د سټوډنټس یونین د صدارتي انتخاباتو د هرې مرحلې ئې ډېر په هنر منظر کشي کړې ده او د دې نه د اعظم د تېز نظر او ژورې مشاهدې اندازه لګي. زه صدر شوم کښې که یو خوا د سټوډنټس یونین په حواله خبره شوې ده نو بل خوا په کښې په غېر محسوس انداز د وطن د سیاست خاکه هم راښکلې شوې ده. لالا یو داسې کردار دی چې نه یواځې په کالج او پوهنتون کښې موجود وي بلکې داسې ډېر لالاګان زموږ په معاشره کښې هم موجود دي چې هغوی د خپل ځان د بربادۍ سره د نورو د بربادۍ قسم خوړلی وي. ډاکټراعظم چې کوم اسلوب خپل کړی دی هغه روایتي نه دی بلکې د هغه د لیک اسلوب د که په خپل وجود کښې د طنز و مزاح تراوهٔ لري نو بل خوا په کښې داسې نشتر هم دی

چې د روح په ورشو د احساس ایوې راکاږي. لکه لالا چې د دنیاتو زده کوونکي په کومه طریقه خپل ځان ته په کوم هنر راړوي او څه څه او څنګه څنګه ورته خبرې کوي:

"موږ محسوسه کړه چې زما د دې وضاحت نه پس د هغوي په تندو کښې زما د مونځ ګزارۍ او ښۀ سړیتوب ښۀ تاثر مسکې مسکې کېدلو.لالا هم د موقعې په سو کښې وو او دغه وخت ئې د قرآن شریف نه یو ګوټه کړی آیت اووی او د ایت په رڼا کښې ئې د حضرت موسیٰ علیه السلام او د بني اسرائیلو قیصه تېره کړه.... یقین وکړئ چې په دې وخت کښې دا زموږ لویه خوش قسمتي ده چې داسې د صوم و صلات پابند، ربنتوني ایماندار او د وعدې تړلی بنیادم زموږ مشرۍ ته غاړه ږدي."(16)

لالا د الیکشن د ګټلو د پاره هره حربه پکاروي او دغسې الیکشن په ملګري ګټي .هم دغه المیه زموږ د هر یو سیاست دان ده چې د خپل ذاتي مفاد په خاطر د ځان نه مداریان جوړ کړي او دروغ ربنتیا کوي او د اولس د دوکه کولو هڅې کوي.

په لشې کښې یو بل تکل د چرګانو المیه په نوم دی. د طنز و مزاح سره سره ئې د ژوند د یو اهم ډګر لفظي تصویر هم جوړ کړی دی او د دغې تصویر سره سم ئې د فولنګ په وخت د چرګ د ذلت او تذلیل هغه کړۀ وړۀ هم داسې د لفظونو په پېکر کښې راټول کړي دي چې په لوست ئې انسان هم هغه ځای او وخت ته لاړ شي چرته چې په یو وخت کښې هغه هم د دغې کرب نه تېر شوی وي. لکه د دې لفظونو په شا څومره کرب او اضطراب دی:

"د یو مسکین خو متین شکل نه چې د ظرافت ډکې سنجیدګۍ څرمن چاپېره شي او په تابعدارۍ ماموره شرافت ئې ښې شي. سادګي ئې قوقله او حماقت ئې مښوکه شي او د کمرې په یو ګوټ کښې ټوغ کښېني هم دغه شی به د کالجیانو په نزد د چرګ نقشونه راجوت کړي."(17)

په دې تکل کښې که یو خوا اعظم د چرګانو د المیې ذکر او فکر کړی نو بل خوا ئې د فولنګ د غندنې سره سم د چرګانو ترانه هم په عملي توګه اوس هم د چرګانو د هر کلي د پاره د منشور حېثیت اختیار کړی.

"پخوا به ملکیت وو ډېرانونه د چرګانو
اوس کال په کال ډکېږي هاستېلونه د چرګانو
چې نوي نوي راشي بل څۀ کار کسب ئې نۀ وي
پېشه وي د چرګانو اوازونه د چرګانو"(18)

د چرګانو ترانه کښې د کالجي چرګانو د کړو وړو سره سره د هغوي د شخصيت بلها رنګونه بيان شوې دي. بل تکل فېشن زپلي دی چې په کښې د نن دور د هغې طبقې ذکر په ټوقو ټوقو کښې کړی شوی دی چې د جديد فېشن نه متاثره وي او خپل ځان ته څه و فېشن زپلي کښې اعظم د فېشن په تدريجي مراحلو د بحث سره سم د فېشن په مصنوعيت هم خبره کړې ده. هغه په يو ځائې کښې هم په دغه مضمون نما تکل کښې ليکي:

"لباسي خندا، لباسي مينه، لباسي مېلمستيا، لباسي غمخوري ، لباسي ښېګړه، لباسي غريب پروري، لباسي امداد، لباسي شاګردي، لباسي استاذي، لباسي پيري، لباسي مريدي، لباسي علميت، لباسي ادبيت، لباسي سياست، لباسي عبادت، لباسي ړيرې، لباسي برېت هر څه مو هېر کړل. د دې ټولو په رګونو کښې د فېشن وينه خوټکېږي خو بيا هم په دې واړو په يو ځل څه وئيل ګران دي او په دې ټولو توکو کښې لباس مشترک دی."(19)

د دې نه پس چې د خلقو کوم لفظي تصوير جوړوي او موږ ته د فېشن زپلو په اړه کوم څۀ وئيل غواړي هغه زموږ معاشرتي الميه ده. د نارينه سره سم ئې د زنانه وو په فېشن خوښۍ او د هغوي د پاره د دغې وبا په بنياد مختلف نومونه هم وړاندې کوي لکه کور پوره کور ناستې يا کور بهرې وغېره، او بيا وړاندې يو تصوير داسې پېش کوي:

"رښتيا خبره خو دا ده چې د ننني دور ډېر نوي فېشن ټيډي ازم له راشي او بنده د ټيډي جامې تصور وکړي نو هسې په ځان کښې کچه کچه شي. داسې حساب وي لکه چې د بنده مخې ته ناګهانه يو څو بربنډ راشي او ډېره حيراني ئې ګم سم اودروي. نه ورته کتلی شې او نه ترې سترګې اړولی شي چې دا ولې؟"(20)

ډاکټر اعظم يو سترګه ور ليکوال ؤ او د خپلې معاشرې په لوړو ژورو ئې ډېر ژور نظر ساتلو. چې څه ويني ګوري د خپل احساس په رنګ کښې لړلي ئې د کاغذ په مخ موږ ته وړاندې کړي دي. په دغه تکلونو کښې يو تکل د فلمي عجائب خانې په نوم هم دی چې د تکل په فني لوازماتو پوره هم دی او د طنز او مزاح يو حسين امتزاج هم دی. د فلمي دنيا هغه اړخونه ئې په ګوته کړي دي د کوم نه چې عام وګړي ناخبره دي. د فلمي دنيا دغه رنګ ئې په داسې انداز منقش کړی دی چې د دغې دنيا نه ناخبرو ته ترې هم د دغې دنيا د لاندي باندي اندازه په اسانه کيږي. د فلمي دنيا په هر اړخ ئې ډېر په ماهرانه هنر قلم پورته کړی چې په کښې د پروډيوسر نه واخله د عام کردار نقشه ئې هم جوړه کړې ده چې په ټوقو ټوقو کښې ئې پرې د طنز نشتر چلولی دی او بيا ئې د کتونکو اپروچ هم واضحه کړی دی چې څنګ د دغه خلقو نه نور خلق اثر اخلي. د دې سره سم ئې د فلم د جوړولو او بيا د هغې په مختلفو اړخونو په زړه پورې طنز هم کړی دی چې څنګه يو فلم د عدم نه وجود ته راځي. د هيرو او هيروئن

متعلق ئې هم خپله مشاهده په ګپ ګپ کښې د کاغذ مخ ته سپارلې ده او په اخره کښې خپل تکل داسې رانغاړي:

"یقین وکړئ چې د فلمي عجائب خانې نه رابهر کېږئ نو ډېر څه به مو لیدلي وي او ډېر څه به مو زده کړي وي خو څه چې مو د بهر په حقله دننه لیدلي او اورېدلي وي بهر به ئې په ستوګو اونۀ ویني او کومه زده کړه چې مو دننه شوي وي بهر به ئې د هېرولو کوشش کوئ."(21)

د فلمي عجائب خانې په وجود کښې اعظم د فلمي دنیا بلها حقیقتونه خوندي کړي دي چې یو خوا د فن خواږه لري نو بل خوا په کښې په خندا خندا کښې انسان ژړوي هم.

لشې هم د اعظم د تکلونو یوه ښائسته نمونه ده. په لشې کښې ډاکټر اعظم د مختلفو لشو په حواله ډېر په استاذۍ د خپل قلم زور ښودلی دی. ډاکټر اعظم د لشو مختلف قسمونه بیان کړي دي لکه د نشو لشې، د لشو لشې، د ښو لشې، د غنمو اوربشو او د لړم لشې، د مچو او ډنډارو لشې، د مهي لشې، د کرسۍ لشې او د انتظار لشې. د دغه لشو په حقله ئې د خپلې ژورې مشاهدې او تجربې په بنیاد ډېر نادره معلومات راوړي دي. د هرې لشې نشې ئې ښه په هنر په ټوقو ټوقو کښې بیان کړي دي او د ژوند د ډېرو حقیقتونو نه ئې پردې پورته کړي دي. په خصوصي توګه چې ئې د کرسۍ د لشې کوم ذکر کړی دی هغه نن هم هغسې د ارزښت وړ اپروچ دی. د عام وګړي د لشې نه واخله د خواصو پورې او د ژوند د عام مرحلې نه تر خاص مرحلو ئې د لشو نه ډک تکل کښې د پښتنې معاشرې په ناوړه روایاتو داسې سکونډارې لګولي دي چې د لوست په وخت ډېرې په شدت سره محسوسېږي. په تېره تېره د انتظار لشو خو ئې د معاشرې د ډېرو وګړو ترجماني کړې ده چې هغوی څنګه د انتظار په لشو د ژوند شپې سبا کوي. د تکلونو سره سم د مسافر په نوم یو مضمون هم شامل دی چې د تکلونو په فهرست کښې ئې لیکلی دی. مسافر کښې ئې د سفر په حقله اجمالي ذکر کړی دی او بیا ئې د مختلفو سفر نګارانو د سفر نامو ذکر کړی دی او بیا ئې د یو فلسفیانه لیک په صورت کښې د مسافر د سفر دغه لیک راټول کړی دی. د دغه مضمون په اخره کښې لیکي:

"د حکیمانو وینا ده چې د انسان ټول سفر د خپل ذات څنې چورلېږي او که ډېر اوګرځي اوګرځي خو هلته ولاړ وي د چرته نه چې روان شوی ؤ. څکه زمکه ګول (غونډه)ده او د بنیادم ټول عمر د ځان د منزل په درک کښې تېر شي خو ځان ونۀ پېژني او انجام ئې څه وي."(22)

مسافر کښې د مضمون عنصر غالب دی او هم په دې وجه ورته موږ تکل نه شو وئیلی خو بیا هم د اعظم د فن نیلی په کښې په موجونو لګي. د لشې اخري تکل پانه دی چې په کښې د پانې په خصوصیاتو او قسمونو بحث شوی دی. د انساني ارتقاء په تناظر کښې ئې هم په پانه د خپل علم او پوهې ثبوت ورکړی دی او بیا ئې د تکل د فن په چوکاټ پوره د چائیو پانه، د کرنسۍ پانه او ورځ پانه

د خپلې تجربې او مشاهدې په بنیاد د نن په تناظر کښې ډېر په هنر او استاکارئ د تکل په لمن کښې ځائې کړي دي. د هرې پانړې په مختلف اړخونو ئې زړه پورې بحث کړی دی او د انسانانو په نفسیاتو د دې اثر او اغېز ئې هم په ګوته کړی دی.

د اعظم د لشې د تکلونو د مطالعې نه دا جوتېږي چې اعظم یو زیرک او لوستی لیکوال ؤ چې نه ئې یواځې د تکل په فن پوره تکلونه لیکلي دي بلکې د خپلې پوهې او تجربې په بنیاد ئې د نخښې مېنځ ویشتلی وي. د اعظم په تکل کله خو د قیصئ رنګ غالب وي او کله د سفرنامې او رپورتاژ خو د هغه د فن تجربه او په خپل قلم لاس بري نه د هغه تکل قیصئ ته پرېښودی دی او نه ئې ترې رپورتاژ او سفر نامه جوړه کړې ده. هن دا ده چې اعظم د دغه اصنافو د تکنیک نه د خپل تکل د وجود د ښکلا د پاره کار ضرور اخستی دی. بعضې وخت د هغه په تکل د نورو اصنافو ګمان پېدا کېږي خو ولې بیا هم تکل د خپل داخلي مزاج او خارجي هیئت په بنیاد خپله ځانګړتیا برقراره ساتي. د اعظم لشې کښې بعضې تکلونه طویل هم دي او لکه څنګه چې د تکل مزاج دی پکار دا ده چې په تکل کښې په اختصار سره په یوه موضوع قلم پورته کول د تکل خوندونه یو په دوه کوي.

## حوالې

(1) مشتاق مجروح یوسفزی،زرکانی،پېښور، یونیورستې بک ایجنسي خیبر بازار، دریم ځل،نومبر 2010ء،مخ 191

(2) Encyclopedia Britannica, Vol. 8, P. No. 713

(3) جارج سینٹس بری،بحوالہ انشائیہ اور اردو انشایئے،سید محمّد حسنین،ص:32

(4)W. H. Hudson, An Introduction to the study of Literature, , London, 1558, P. No. 332

(5)E. William, A Book of English Essays, , London, 1951, P. No. 11

(6)F. H. Pritchered, Essays of today, , London, 1930, P. No. 11

(7)Houston Peterson, Great Essays, , New York, 1954,P. No. 14

(8)Dr. Johnson, Refer. W. H. Hudson, An Introduction to the study of literature,London, 1558, P. No. 331

(9) سید محمد حسنین،صنف انشائیہ اور انشایئے،پٹنہ,1978,ص38

(10) ڈاکٹر وحید قریشی،اردو کا بہترین انشائی ادب،لاہور،1964,ص12

(11) ابو الاعجاز حفیظ صدیقی،کشاف تنقیدی اصطلاحات،مقتدرہ قومی زبان اسلام آباد،طبع دوم ستمبر,1985،ص143

(12) ڈاکٹر سلیم اختر،انشائیہ کی بنیاد،لاہور, 1986،ص153

(13) ڈاکٹر سلام سندیلوی،ادب کا تنقیدی مطالعہ،ص203-204

(14) لطیف ساحل،صنف نثر بحوالہ 'اردو انشائیہ کے ابتدائی نقوش'،ص14

(15) مشتاق مجروح یوسفزی،زرکانی ،مخ 192

(16) محمد اعظم اعظم،لشې،پېښور، یونیور ستې پبلیشرز، ځلورم ځل ۲۰۱۰ء،مخ 160

(17)همدغه ، مخ 178-179

(18) همدغه، مخ 185

(19)همدغه، مخ 195-196

(20)همدغه، مخ 199

(21) همدغه، مخ 222

(22) همدغه، مخ 250